# په پښتوادب کښې د معرئ نظم ارتقاء

# The Evolution of Blank Verse in Pashto literature

Fida Hussain [1]    Dr.Sher Zaman Seman [2]

## Abstract

*A Blank Verse (Muarra Nazm) is a literary term that refers to poetry written in unrhymed but metered lines, in which an idea or an impression is expressed. It is a type of poem which belongs to an English origin. The term* blank verse *is a translation of the Italian* versi sciolti. T*his term was used for first time In Italy in sixteenth century and arrived from the Italian literature to Urdu through English literature and after from Urdu it's come to Pashto literature.*

*In English and Urdu literature, there is some great name of poets in this genre of poetry, but in Pashto literature, this genre of poetry has not yet gotten like the same position as in other literature of Western or Urdu literature. However, some Pashtun writers and poets like Dr. Salma Shaheen, Dr. Abdullah Jan Abid and Dr. Farzana Ghani are argue that there are some poets who expressed his thoughts in this genre of poetry. among them are "Fazl Muhammad Mukhfi, Syed Rahat Zakheli, Muhammad Aslam Khan Kamali, Fazl Akbar Benwa, Muhammad Akbar Khadim, Abdul Manan Manan, Mia Azad Gul, Abdul Malik Fida, Abdul Akbar Khan Akbar, Samandar Khan Samandar, Sahibzada Idris, Fazal Rahim Saqi, Sher Muhammad Menush, Mir Rehman Ghazi and Amir Hamza Shinwari" etc.*

[1] PhD scholar, Pashtu Academy, University of Peshawar
[2] Assistant Professor, Pashtu Academy, University of Peshawar

## 1.1د معریٰ نظم لنډه پېژندګلو:

معریٰ نظم چې په پښتو ،اردو او فارسي کښې ور ته معریٰ او په انګریزی کښې "Blank Verse" وائي د لفظ معریٰ یا معرا لفظي معنا خالي یا لغړ ده دغه شان د انګریزي Blank هم خالي ځائے ته وائي ـ چونکې معریٰ نظم د قافیې او ردیف د پابندی نه ازاد یا خالي وي نو ځکه ورته معریٰ نظم وائي ـ په شعري اصطلاح کښې د نظم هغه قسم دے کوم چې د قافیې او ردیف د قېد نه ازاد وي خود وزن او بحر خیال پکښې ساتلے شوے وي ـ

د اردو ویکیپیډیا د مخې معریٰ نظم،

"معریٰ نظم ایسی نظم کو کہتے ہیں جس میں وزن بھی ہوتا ہے اور ارکانِ بحر کی پابندی بھی کی جاتی ہے۔ البتہ اس میں قافیہ اور ردیف سے کام نہیں لیا جاتا۔"[1]

" معریٰ نظم هغه نظم ته وائي چې په هغې کښې وزن هم وي او د ارکانو د بحر پابندي پکښې هم کېږي ـ خو ولې د قافیې او ردیف نه پکښې کار نۀ شي اخستلے ـ "

د آزاد دائرۃ المعارف، ویکیپیڈیا د مخښې:

"نظم معرا جسے غیر مقفی نظم، بلا قافیہ نظم یا بلینک ورس بھی کہا جاتا ہے، اس شاعری کو کہتے ہیں جس میں قافیہ کا خیال نہیں رکھا جاتا۔ یورپ اور بالخصوص انگریزی شاعری میں اس کا رواج رہا ہے۔ ابتدا میں اردو میں اس طرز شاعری کو غلط سمجھا گیا لیکن بعد میں اس کا چلن عام ہو گیا۔"[2]

" نظم معرا چې غېر مقفي نظم، بلا قافیه نظم یا بلینک ورس ورته هم وائي هغۀ شاعری ته وائي چې پکښې د قافیې خیال نۀ شي ساتلے ـ په یورپ او په خصوصي توګه په انګریزی کښې ددې رواج پاتې شوے دے ـ په شروع کښې په اردو کښې دا قسم شاعري غلطه ګڼلے کېده خو وروستو ددې چلن عام شو ـ "

د انګلش ویکیپیډیا د مخښې:

**"Blank verse" is a literary term that refers to poetry written in unrhymed but metered lines -[3]"**

"معرا نظم" یوه ادبي اصطلاح ده چې هغه شعر ته اشاره کوي چې د قافیې او ردیف نه بغیر په هم وزنه کرښو کې لیکل شوي وي ـ "

په پښتو کښې ښاغلي مشتاق مجروح د معرئ نظم پېژندګلو داسې کوي:

" معرئ نظم د انګریـزی نـه راغلـے دے ـ پخوا به دې ته غیر مقفـئ نظـم وئـېلے شـو ـ وروستو ددې د پاره د معرئ نظم اصطلاح وټـاکلے شوه ـ کومه چې د انګریزی د بلینک ورس Blank Verse لغوي ترجمه ده ـ

په معرئ نظم کښې قافیه نۀ وي صـرف بحـر او وزن لري ـ دا صرف یو هیئت دے شعري صنف نـۀ دے ـ هر قسم خیال په دې هیئت کښې غیر مقفئ لیکلے شي ـ "[4]

"پښتو ادب په یو نظر کښې" د معرئ نظـم پـه حقله لیکي:

" معرئ نظم هغه وي کوم چې د قافیې او ردیف له قېده خلاص وي ـ خو ددې نظم ټول شعرونه او مصرعې به په یو وزن او بحر کښې وي ـ "[5]

ډاکټر سلمئ شاهین لیکي:

"معرئ نظم هغه نظم تـه وئـېلے کېـږي چـې د قافیې ردیف د قېـد نـه ازاد وي خـو ددې ټـول شعرونه او مصرعې په یو بحر او وزن کښې وي ـ

دا صنف مونږ سره په شلمه صدۍ کښې رائج شوے دے ـ "[6]

ددې څو تعریفونو په رڼا کښې دا خبره په ډاګه شوه چې د یوې موضوع د سرخط لاندې لیکلے شوې داسې نظم چې د قافیې او ردیف د قېد نه ازاد وي خو د وزن او بحر خیال پکښې ساتلے شوې وي نو هغې ته معرئ نظم وائي ـ

## 1.2 په پښتو کښې معرئ نظم :

په پښتو کښې معرئ نظم که هر څو د ازاد نظم نه مخکښې راغلے دے[7] خو په پښتو شعري ادب کښې معرئ نظم هغه مقام لا نه دې ترلاسه کړې کوم چې ازاد نظم ته حاصل دے ـ په دې حقله ډاکټر عبدالله جان عابد لیکي:

" پشتوادب میں معریٰ نظم کا تجربہ تو ہوا مگر اسے خاطر خواہ پذیرائی نہیں ملی، تاہم اس کی مثالیں پشتو ادب میں موجود ہیں۔"[8]

"په پښتو ادب کښې د معرئ نظم تجربه خو اوشوه ولې دومره مقام ورته ملاؤ نۀ شو خو بیا هم په پښتو ادب کښې ددې مثالونه موجود دي ـ "

په پښتو کښې چې کومو شاعرانو په معرئ نظم کښې طبع آزمائي کړې ده د هغوي په حقله عابد صېب لیکي:

"ان میں سید رسول رسا، فضل حق شیدا، اشرف مفتون، یونس خلیل، اجمل خٹک، لطیف وہمی، محمد نواز طائر، رشید علی دہقان، سلیم راز، فوزیہ انجم، امین اللہ داؤدزے، خلیل باور وغیر ہم کے نام قابل ذکر ہیں۔ علاوہ ازیں قمر راہی کے شعری مجموعے خیرہ (کرن) میں بھی معریٰ نظموں کے نمونے موجود ہے۔"[9]

" په دوئې کښې سيد رسول رسا، فضل حق شېدا، اشرف مفتون، يونس خليل، اجمل خټک، لطيف وهمي، محمد نواز طائر، رشيد علي دهقان،سليم راز، فوزيه انجم، امين الله داودزے، خليل باوراو د نورو نومونه د يادولو وړ دي ـ د دوئي نه برڅېره د قمر راهي په شعري مجموعه " څيره" کښې هم د معرىٰ نظمونو نمونے بيامونډي شي ـ "

د سيد رسول رسا نه مخکښې هم ډېرو شاعرانو په پښتو کښې معرىٰ نظمونه ليکلي دي د کومو ذکر چې ډاکټر سلمىٰ شاهين په خپله مقاله " جديد نظم په پښتو کښې" کښې کړے دے ـ د جديد نظم په وړومبينو شاعرانو کښې کوم نومونه چې ډاکټر سلمىٰ اخستي دي په هغوي کښې " فضل محمد مخفي، سيد راحت زاخيلي ،محمد اسلم خان کمالي، فضل اکبر بينوا ،محمد اکبر خادم ،عبدالمنان منان، ميا ازاد گل، عبدالمالک فدا، عبدالاکبر خان اکبر، سمندرخان سمندر، صاحبزاده ادريس، فضل رحيم ساقي، شېر محمد مېنوش، مير رحمان غازي او امير حمزه شينواري "[10] شامل دي ـ

دغه شاعرانو که هر څو په فکري ډول پښتو نظم ته جديدت بخښلے دے خو ځيني شاعران پکښې داسې هم دي چې د فکر سره سره ئې د هيئت په بنياد هم جديد نظم ليکلے دے ـ د مثال په توگه که مونږ د سمندر خان سمندر يو نظم "

د ایلم په څوکه ناست یم " ته اوګورو نو د لنډ بحر دا نظم ئې معرا نظم ته ورته ښکاري ـ دنظم د غه یو څو بېتونه :

د ایلم په څوکه ناست یم
زۀ دټول جهان نه پورته
لکه والوزي له شوقه
اسمانونو له کوتره
چورلندې خورې په فضا کښې
کوزه ګورې ګرځي بره
د زړۀ مرغ مې دې خوشحاله
سېل کوي د غره له سره
د دنیا له درد وغمه
دا ساعت دے بې خبره
د ایلم په څوکه ناست یم
زۀ له ټول جهانه پورته
جنګ رباب او که سیتار دے ...[11]

دغه نظم چې د قافیو او ردیف د قېد نه ازاد دے د وزن او بحر خیال پکښې هم ساتلے شوے او هره مصرعه ئې اتۀ سېلابه ده نو ځکه ورته معرئ وئېلے شو ـ

د ډاکټر عبدالله جان[12] او ډاکټر سلمئ شاهین[13] د وینا مطابق د سمندر خان سمندر د پیدائش کال ۱۹۰۱ءدے - ددې نظم فکري اړخ او رومانوي انداز ته که اوګورو نو داسې بریښي چې دا به سمندر خان د ځوانئ په عمر کښې

لیکلے وي په دغه حساب به ددي نظم د لیکلو دور د کال ۱۹۲۰ء او کال ۱۹۳۰ء ترمنځه وي ـ ددې نه دا اندازه هم لګولے شو چې په پښتو کښې به د معریٰ نظم ابتداء هم د ۱۹۳۰ء او یا ددې نه مخکښې شوې وي ـ

صاحبزاده محمد ادریس هم په هغۀ وړمبنیو شاعرانوکښې دے چې د نظم د نورو هیئتونو سره سره ئې معریٰ نظم هم لیکلے دے ددوي ددغې لیکنو په حقله ډاکټر سلمیٰ شاهین لیکي:

> " ازاد نظم ، بلنک ورس(معریٰ نظم )، چاربیتې، لوبې، نیمکۍ، بګتۍ، ټپې، رباعي، قطعې، غزلونه او نظمونه مختلفو بحرونو کښې ساز کړي دي ـ "[14]

ددوي یو نظم چې ډاکټر سلمیٰ شاهین په خپله مقاله کښې راوړےدے ـ

بس خیال دے زما
صر صر د هوا
تر تر د شیبې
کو کو د قمري
چون چون د مرغۍ
ټنګ ټنګ د طبلې
ترنګ ترنګ د رباب
شرنګ شرنګ د ګنګرو
...

دا هر څۀ چې دي
بس خيال دے زما[15]

د صاحبزاده ادريس دي نظم ته که اوګورو نو په دي کښې د رواني ، سلاست، وزن او بحر دومره خيال ساتلے شوے دے چې داسې نۀ ښکاري چې دا به په پښتو ادب کښې د معرىٰ نظم د اولني دور نظم وي بلکې داسې تري معلوميږي چې په پښتو کښې ددې نه مخښکې هم معرىٰ نظمونه ليکلے شوي دي او دا نظم د هغې په تتبع کښې ليکلے شوے دے ـ

هم ددغې دورد سيد رسول رسا معر ىٰ نظمونه هم د يادولو وړ دي ، رسا صيب هم په فني او فکري توګه معياري معر ىٰ نظمونه ليکلي دي ـ

" دوي غيړ مقففىٰ نظمونه هم ليکلي دي او د شعر يا د نوي نظم د نوي انداز نوې پيړائې ئې هم متعارفه کړي دي ـ د نورو ژبو د نظمونو د مطالعې نه پس ئې د هيئت نوې نوې تجربې کړي دي د انګريزى ژبې معرىٰ نظم ستنزا فارم د وړو وړو مصرعو بندونه د يوې نيمې مصرعې اوږدۀ نظمونه او د لويو لويو بحرونو د تمثيلي انداز متکلمانه نظمونه د متقديمينو د نظمونو نه بالکل په مختلف انداز کښې دوي ليکلي دي ـ "[16]

ډاکټر عبدالله جان عابدصيب هم سيد رسول رسا د معرىٰ نظم په وړمبنيو شاعرانو کښې ياد کړے دے ـ [17]

د رسا صېب د شاعرئ په حقله ډاکټر عبدالله جان عابد لیکي ـ

سید رسول رسارومانوی شاعر ہیں،جنھوں نے اپنے رومانوی اندازِ فکر کی ترسیل اور ابلاغ کے لئے نظم کو ذریعہ اظہار بنایااور غزل کے نازک اور لطیف مضامین کو بھی نظم میں سمویا۔**شکلے فقیرہ** اور ڈمے تہ ان کی شاہکار نظمیں ہیں۔"[18]

ترجمه:"سید رسول رسا روماني شاعر دے، دوي د خپل رومانوي فکر د خورولو او نورو ته د رسولو د پاره نظم د خپل اظهار ذریعه ګرځولې ده او د غزل نازک موضوعات ئې هم په نظمونو کښې پئېلي دي ـ شکلي فقیره او ډمې ته د دوئي شاهکار نظمونه دي ـ په نظم وئېلو کښې زیات د اوږدوالي او د وړو وړو موضوعاتو په تفصیل د بیانولو نه کار اخلي ـ "

د سید رسول رسا په نظمونو کښې که یو طرف ته د پرېوتي او غریبې طبقې د درد عکاسي شوي ده نو بل طرف ته ئې په نظمونو کښې د عام اولس ترجماني هم کړي ده ـ مزدور، دهقان، کلرک، فقیر،ډمه او نور ئې داسي نظمونه دي چې د عام انسان د ژوند د ستونزو ښودنه پکښې شوي ده ـ د رومانويت او مقصدیت شاهکار نظمونه ئې لیکلي دي ـ هغه که پابند دي که ازاد او که معرئ ، هم دغه یو درد او یو غم ئې پکښې ژړولے دے ـ

ډاکټر عبدالله جان عابد فضل حق شېدا هم د معرئ نظم ګو شاعرانو په لړ کښې یاد کړے دے[19] ـ دوي لیکي:

" ان دونوں (فضل حق شیدا اور سید رسول رسا) کا شمار پشتو ادب کے ان شعرا میں ہوتا ہے، جنھوں نے جدید پشتو شاعری اور بالخصوص پشتو نظم میں نت نئے فنی تجربے کیے اور اس میں اسلوب، ہیئت اور موضوع کے لحاظ سے جدت پیدا کی۔"[20]

ډاکټر سلمیٰ شاهین د فضل حق شیدا د نظمونو په حقله لیکي:

" په جدید نظم کښې ددهٔ د نظم اهمیت په دې لحاظ هم زیات دے چې دوي د نظم پخواني بندشونه نهٔ دي خپل کړي او نظم ته ئې خپل اهنګ او رنګ ورکړے دے ــ ددوي په نظمونو کښې د احساس شدت او د شعور ژورتیا په نظر راځي ــ که په پښتو جدید نظم کښې ئې د هیئت نوي نوي تجربې کړي دي نو د مضامینو په لحاظ هم د ډیر نوؤ خیالاتو څرګندونه کوي ــ "[21]

د اشرف مفتون شمار هم په هغه شاعرانو کښې کېږي چې معریٰ نظمونه ئې لیکلي دي ــ مفتون صېب د فن او فکر په بنیاد ډیر ښه معریٰ نظمونه لیکلي دي ــ ډاکټر سلمیٰ شاهین د مفتون صېب د شاعری په اړه لیکي:

" ددوي (اشرف مفتون) په معریٰ او پابند نظم کښې ردم داسې محسوسېږي لکه چې لوستونکي نشه کړي ــ د حسن و عشق روماني جهان ته ئې بوځي ــ د اشرف مفتون په شاعری تبصره کوونکو دوي ته د حسن پرستی په سبب کیټس او د صنف نازک سره د مخاطبې په وجه اختر شېراني وئیلې دي

ځکه چې اشرف مفتون په خپلو نظمونو کښې خپل جذبات او احساسات د مينې او وصال کېفيتونه انتظار او اذيتونه خپل يو آئيډل کردار زهرا سره تړلي دي ـ "[22]

وړاندې ددوي د نظم په فکري اړخ داسې رڼا اچوي:

" مفتون دخپل دور ډېر اهم روماني شاعر دے ـ ددۀ نظمونه نوي او ښائسته دي د روايتي، اخلاقي، مذهبي جنون زنځيرونه ماتوي ددۀ د تخيل رهنمائي په عشق ده ـ دے په خپل تخيل کښې د محبت هغې جهان ته لاړ شي چرته چې د ژوند مادي تصور تکليفونه هنګامې هېڅ هم نۀ وي يوه داسې دنيا چې صرف د هغۀ په مرضی جوړه وي ـ جنسي، جسماني او تخيلي مينه د هغۀ د ذهن په دنيا خوره وي د جذباتو په طوفانونو کښې ورک شي د سماجي پابندو او روايتونو نه بغاوت کوي ـ جذباتي او تخيل پرست شاعر دے ـ "[23]

ډاکټر اختر علي د مفتون صېب د نظمونو په حقله وائي:

"مفتون صېب نظم کښې مينې ، رومان ، او جمالياتي حل ټول خوندونه خوندي پراتۀ دي .او د هېئتونو په لحاظ د دوي نظم ،مکالمه ،

ستېزافارم ، معری نظم او سانټ کښې دوي د خپلو رنګینو او عشقیه خیالاتو اظهار کړے دے . د دوي داسې نظمونه ډېر زړهٔ راښکونکي دي ـ "[24]

ډاکټر عبدالله جان د مفتون صېب د فکر او فن په اړه لیکي :

" مفتون حسن و جمال کے شاعر ہیں اور نہ صرف جمالیاتی تصور ان کے رومانوی احساس کا ایک جزو ہے، بل کہ ان کے یہاں جمالیات کے بارے میں بھی واضح تصور ملتا ہے ۔ ان کے کلام میں رومانویت اپنے تمام تر تقاضوں سمیت پوری آب و تاب کے ساتھ جلوہ گر ہے ۔ اس لیے ہم وثوق سے کہہ سکتے ہیں کہ پشتو شاعری میں رومانویت اس سے پہلے اس صورت و شکل میں موجود نہیں تھی۔"[25]

مفتون صېب که يو طرف ته ډېر ښه پابند نظمونه ليکلي دي نو ددغي سره سره ئې معریٰ نظمونه هم د کمال نه خالي نهٔ دي ، د خپل تخیل او ژور فکر په بنیاد ئې د پښتو معریٰ نظم د نورو ژبو د معریٰ نظمونو هم پله کړے دے ـ ددوي يو نظم "زهٔ او تهٔ" يو څو شعرونه کوم چې د معریٰ نظم په حواله ددوي د فکر او فن ترجمان دے ـ

**"زهٔ او تهٔ"**

د سپرلي په ورځو شپو کښې

چرته لرے غرهٔ لمن کښې

د ګر ګرې ونې شا تهٔ

د ښائسته چینے په غاړهٔ

وخت زيړي مـــازيـګري کښـــې
څه منځ بـيرتـه فـاصلـے تـــه
د شــــپيلۍ خــــوږے ســــندرے
تــــورو غرونـــــو تـنبــــولے[26]

د مفـتون صېب يـو بل نظم"خـــوب" هــم د دوي د معـــرا نـظمـونـوپـه ښۀ نـظمـونـو کـښې شمـارلے شوي دي ـــ

سيده بشرىٰ بـيګم (س ـــ ب ـــ ب) هم ددغې دور په نظـم ګـو شـاعرانـو کـښې ده ،چې د پـابـند ،او ازاد نظم سره ســره ئـې مـعرىٰ نظم هم لـيکلے دے ـــ ددوي د نظمونــــو پـــه حقلـــه ډاکـټر سلمىٰ شاهين لـيکي:

" ۱۹۵۶ءکښې ددې د شعرونو مجموعــه د زيــــړې پـه نـوم شا ئع شوي ده ـــ دوي ډېـــره ســـنجيده او مقصدي معرىٰ او پـابـند نظمونـه لـيکلي دي ـــ چې پـکښې د خپل و خت د حـــالاتـو د تـرجمــــانـى ســـره د پـښتـون اولـس د شعور بېداري، علم پـوهه او ددوي اصلاح ئـې مقصد او پـېغـام ګـرزولے دے ـــ "[27]

يـونـس خـلـيل هم د پـښتو هغــۀ خـــوږ ژبــــې او پــــه پـښـــنتـه خـاوره مـئېن شـاعر دے چې د غزل سره ئـې د جديـــد نـظـم پـه هر هيـئت کـښې شـاعري کـړي ده ـــ دوي د پـابـند نـظم سره

ازاد او معرئ نظمونه هم لیکلي دي ــ ډاکټر سلمئ شاهین لیکي:

"دوي د نظم په فن کښې د معرئ نظم قادر الکلام شاعر ګڼلے شي ــ دوي د انګریزی ژبې په مطالعه په معرئ ، ازاد او سټنزا فارم کښې نظمونه لیکلي دي ددوي د نظمونو کښې د انداز او بیان د مضامینو او هیئت جدت ډېر نمایان دے ــ "[28]

دمیجر صیب د شاعرئ ګڼ موضوعات دي خو په شاعرئ ئې د قام او وطن مینه د ټولو نه زیاته غالبه ښکاري ــ نګینه خانم د میجر صیب په حقله لیکي:

"د حسن پرستار ، د پاکې مینې ترجمان، د رنګین تخیّل شاعر، د لفظونو ماهر، د خوبونو د جزیروجادوګر او د رومان شهزاده- مېجر یونس خلیل څۀ غېر معروف شخصیت نۀ دے- هغه د شعر د دنیایو ښکاره نوم دے- او د شاعرانو په هغه صنف کښې شامل دے چې د دستار تړلو حق لري ــ "[29]

لاله زا، څاڅکي او پس د څاڅکو لاله زار د میجر یونس خلیل د شعرونو مجموعې دي چې د نورو شعري صنفونو سره پکښې معرئ نظمونه هم شته ــ ددوي د کلام په حقله نګینه خانم وړاندې لیکي:

" د مېجر یونس خلیل کلام ګڼ اړخونه لري د هغۀ په کلام کښې عارفانه مضامین هم شته، د سماج ناروا رسمونو ذکر هم شته ، د هغۀ د کلام روماني اړخ ډېر معیاري دے- د هغۀ په کلام کښې منظرکشي هم شته او فطرت نګاري هم - هغۀ مرثیې هم لیکلي دي او په کلام کښې ئې رجائیت هم شته - هغۀ د حسن پرستار او جمال پرست هم دے- د وطن په مینه مست پتنګ هم دے-"[30]

د نظم وئېلو ژبه ئې خوږه ،پسته ،روانه او سلیسه ده ، څکه په لوستونکي زر اثر هم کوي او په اسانه تري مقصد هم اخستے شي ، په دې حواله نګینه خانم لیکي:

"مېجر يونس خليل واقعي د خوږې لهجې شاعر دے- په اشعارو کښې د هغهٔ استعمال کړي الفاظ ، تشبيهات او نورو صنعتونو په رنګونو کښې ډوب ښکاري- د لفظونو نه ئې خوشبو يانې را الوځي- د هغهٔ څنې شعرونه دومره زيات خوارهٔ او معنې خېز دي چې د متلونو درجه لري-"[31]

ددغه معرئ نظم نه ئې د فن او فکر اندازه په اسانه لګي ـ

د تيرو په زړهٔ چې څه دي
زما شپه ترې بې پرواه ده
ستا د حسن نور ورېږي
زما لارو کښې وفا ده
د ستم به خپل قانون وي
د وفا هم خپل آئين دے
که زياتے د زهرو ګوټ دے
مګر ستا په نوم شيرين دے
څه وقار د زندګی وي
څه عظمت د خپل تاريخ وي
د شب خون به څه برے وي
چې يادونه پکښې اوسي ـ [32]

دپښتو ژبې يو بل ياد او سپېڅلے شخصيت اجمل خټک هم د پابند نظمونو سره معرئ نظمونه ليکلي دي دوي چې څنګه د فکر په بنياد ډېر ښه او معياري نظمونه ليکلي دي دغسې ئې د هيئت په لحاظ هم ډېر ښه نظمونه تخليق کړي دي ـ

ښاغلے ماښام خټک د اجمل خټک د شعري هنر په حقله ليکي:

" اجمل خټک په خپلي لمبه لمبه او اور اور لهجه کښې پهٔ پښتو ادب کښې يو نوے رحجان راوزېږولو د هغهٔ وخت د لوستونکيو په مزاج کښې ئې د نرمی پهٔ ځائے ګرمي راپيدا کړه چې ددې نه وړاندې چا دا ګمان هم نهٔ شو کولے چې د اکوړې د خاورې نه به څلور څلورنيم سوه کاله پس يو ځوان راپاسي او د ستر خوشحال ياد به راتازه کوي د اجمل خټک نه پسته ډېر شاعران راپاڅېدل او ددهٔ په طرز يا تتبع کښې په نره او مجاهدانه انداز شاعري اوکړه خو

مونږ ته دا هر ګز نۀ دي هېرول پکار چې هم
دا اجمل خټک وو چې راروان کـ هول ته ئې ددې
انداز رده کېښودلـه ـ "[33]

د اجمل خټک کوم فکري موضوعات چې په غزل او پابند نظم کښې بیان شوے دے هم دغه فکر ئې په خپل معرئ نظم کښې هم وړاندې کړے دے ـ دووي د شعري فن او موضوعاتو په اړه ډاکټر سلمئ شاهین لیکي:

" د اجمل خټک د نظم په خصوصیاتو کښې ښکاره
د هغۀ جذباتي شدت شاعرانه قادرالکلامي او
ښکلو الفاظو انتخاب رواني سلاست او ورسره د
معنئ د ابلاغ زبردست صلاحیت موجود دے ـ اجمل
خټک په بنیادي توګه واضحه اولسي مقصدد پاره
لیکي د معاشرې په خرابو بې انصافو طبقاتي
کشمکش او خصوصاً د زپلي شوي اولس د احساساتو
ترجمان دے د آجمل خټک په نظم کښې رنګینـي
ډېره ده ولې د احساس تریخوالے په دغه رنګینئ
غالب ښکاري ـ ددوي په نظم کښې ترقي پسند
خیالات ډېر واضحه دي ـ "[34]

"جنت" نظم ددوي د اوچت خیال او ژورفکر یو شاهکار نظم دے ـ

د پښتو شعري ادب کښې پریشان خټک هغه هستي ده چې نظمونه ئې د یادولو وړ دي دوي د پابند او ازاد نظم نه علاوه معرئ نظمونه هم لیکلي دي ـ ډاکټر سلمئ شاهین لیکي ـ

"د نظم د هیئت یا تکنیک په لحاظ ددوي په
نظم کښې څۀ خاص تبدیلي په نظر نۀ راځي خو
اکثر اظهار ئې په پابند نظم ستېنزا فارم او
ازاد نظم کښې کړے دے ـ دوي معرئ نظمونه هم
لیکلي دي ـ "[35]

"د ګلو تشه پچی " چې دوي د معرئ نظم په هیئت کښې لیکلے دے ،نه ددوي د نظمونو د فن او فکر اندازه په اسانه لګي ـ

په پښتو ادب کښې د معرئ نظم په حواله بل معتبر نوم د پښتو ژبې د ستر شاعر او لیکوال اروابښاد پروفېسر محمد نواز طائر دے دوي چې څنګه د ازاد نظم په حواله د پښتو جدید نظم پنګه درنه کړي ده هم دغه شان ئې پښتو ادب ته څه شمېر معرئ نظمونه هم ورکړي دي ـ ډاکټر

عبدالله جان ددوي نامه هم د معرئ نظمونو په ليکوالو شاعرانو کښې اخلي[36] ـ ډاکټر سلمئ شاهين ليکي:

" پروفېسر محمد نواز طائر د جديد نظم په ميدان د فن کښې د هيئت په لحاظ هم او د موضوعاتو په لحاظ هم خپلو همعصره شاعرانو کښې ډېر اهم دے ـ په نظم کښې ددوي رنګ ډېر اصلاحي او معاشرتي دے ـ دجديد نظم په شاعرانو کښې محمد نواز طائر صېب د نظم خپل انداز لري ـ دوي په خپل نظم کښې هيڅ سياسي يا انقلابي نظريه د پېغام په ډول نۀ خوروي البته د خپل اولس بې علمي خواري او غريبي او بې هنري د خفګان اظهار کوي ـ "[37]

د طائر صېب د معرئ نظم موضوعات هم دغۀ د خپل اولس په غم ژړا ده او د خپل قوم دغۀ بې حسي او کم علمي په ګوته کول دي ـ څنګه چې ئې په نوره شاعرۍ کښې د سنجيده فکر او مقصد څرګندونه کړي ده هم دغه شان ئې معرئ نظمونه هم سنجيده او د مقصد نه ډک دي ـ د طائر صېب د يو نظم " پرواز" په حقله ډاکټر سلمئ شاهين ليکي:

" پرواز ددې ډېر اوږد نظم چې تمثيلي انداز کښې ليکلے شوے دے په فني لحاظ معرئ نظم دے په ۱۹۶۳ءکښې په درې مياشتنۍ مجله پښتو کښې شائع شوے ؤ ـ روستو په کتابي صورت کښې هم شائع شو ـ دا نظم په اصل کښې د ژوند د يوې تعميري فلسفې ترجمان دے، مسلسل بيانيه نظم دے په واقعاتي انداز کښې خپل منزل او مقصد ته په ډېر منطقي انداز رسېږي ـ "[38]

د طائر صېب که هر څو د معرئ نظمونو مجموعه نۀ ده چاپ شوي خو په نورو شعري مجموعو کښې ئې څو معرئ نظمونه چاپ دي ـ د ژوند سندره د طائر صېب ليکلے شوے هغه اوږد نظم دے چې د دوي د کتاب " د ژوند سندره " کښې څه د پاسه په سلو مخونو خور دے ـ دغه اوږد نظم چې په وړو وړو برخوکښې ويشل شوے دے څه برخې ئې د ازاد نظم په هيئت کښې دي او بيا څه برخې او بندونه ئې د معرئ نظم په هيئت کښې ليک دي ـ

د طائر صېب دغه يو اوږد نظم دے چې انساني هنر د يو شاهکار فن او معيار ستائېنه پکښې شوي ده ـ او د هغې د ښکلا ذکر پکښې شوے دے ـ

د ښاغلي هاشم بابر شمېر هم په هغې څو شاعرانو کښې کېږي چا چې په پښتو ادب کښې د معرئ نظم تله درنه کړي ده ــ دوي ډېر معياري معرئ نظمونه ليکلي دي او په شعري مجموعو کښې ئې د پابند او ازاد نظمونو سره سره معرئ نظمونه هم راوړي دي ، ددوي د شعري ټولګو په اړه ډاکټر سلمئ شاهين ليکي:

" د دوي د ازاد و معرئ او نثري نظمونو درې مجموعې شائع شوي دي ــ او دغه مجموعو وخت په وخت اپوارډونه هم اخستي دي ــ "[39]

ډاکټر عبدالله جان عابد ددوي د نظمونو په اړه ليکي:

" ہاشم بابر کی جدید شاعری کا ایک سر بر آوردہ نام ہے، جنھوں نے جدید نظم کی مختلف اشکال جیسے آزاد نظم، معرئ نظم اور حتیٰ کہ نثری نظم میں بھی خوب طبع آزمائی کی ہے۔"[40]

بابر صېب که يو طرف ته ډېر ښه او معياري ازاد نظمونه ليکلي دي نو بل طرف ته ئې معرئ نظمونه هم د فکر او فن په تول پوره دي ، دوي ډېر معياري معرئ نظمونه پښتو ادب ته ډالی کړي دي ــ "يا طواف دے يا ګډا" ددوي يو معرئ نظم دے چې ددوي د د فن د معيار اندازه ترې لګي ــ

د امين الله داؤدزے د ازاد نظمونو سره سره ددوي معرئ نظمونه هم د يادولو وړ دي ، دوي پښتو ادب ته ډېر ښه په فن او د فکر په تول پوره معرئ نظمونه ورکړي دي په بېلا بېلو مجموعو کښې ئې معرئ نظمونه چاپ دي ددوي يو نظم "رقيب او زنځير" چې د پښتنو د جدا کوونکي ازغن تار او د ډيورنډ د کرښې په تناظر کښې ئې ليکلے دے ــ

ډيورنډ بيا په پوله
ګرځي
مطمئن دے چې تر اوسه
زما کرښه لا پخښه ده
خو بانه ئې جوړه کړي
چې دا پوله داسې نۀ وه
نن ئې بل مزے راخستے
زما، ستا د کلو مينځ
کښې
يو کچه کرښه راکاږي
ورسره دا حکم اوکړي
چې سبا مازيګر کېږي

ازغــن تـــار پـــه پـولـــه
غـــــــــــــــــــواړم[41]

پـه پـښـتـنـو شـاعرانـو کـښي اسیـر مـېنـګـل هم داسې شاعر دے چې ډېـر ښه معرئ نـظمونـه ئـې تـخلیـق کـړي دي ، ددوي دغۀ یـو نـظم چې د مـیـنـې او ښکلا ذکـر ئــې پـکـښــې هــم کـــړے دے او د ځوانـی د ختـونـو ارمـان ئـې پـکښې هم کـړے دے پـــه دغـــۀ نـظــم کـښې وائــې:

**نـۀ د سپـرلـو پـرواه وه**
**نـــۀ د رنـګونـــو فـکـــر**
**مســتـئ چـورلـــک خوړلـــو**
**ښکلا د کـور ویـنـځـــه وه**
**وخت کتـه کـــړے خـــر وۀ**
**تـلـلـو زمـونـږ پـه خوښـه**
**چــا خـــوزؤلـے نـــۀ شـــو**
**وو لـکـــه غرونـــه ولاړ**
**څـــۀ بـــې نـیـــازي وه**
**خدایـــــــــــــــــــه**
**څـــۀ خـــود داري وه**
**خدایـــــــــــــــــــه**
**اوس مـــونـږ ښـــکلا پـســې**
**مـــــــــــــــــــرو**
**اوس مـونـږ سپـرلـي لـټـوو**
**اوس مـونـږ رنـګونـه مـړو**
**خو ښـائـست نـۀ راکـرځــې**
**اوس چې زۀ فـکـر اوکـړم**
**نـــو پـــه دې ورســـمـه**
**هغـــۀ جـــوړ زۀ زلـمـــے**
**ووم**
**هغۀ جـــوړ تـــه پـېغلـــه**
**وې[42]**

پـه زنـانـه شـاعرانـه کـښي د معرئ نـظم پـه حوالـه د سـیـده حسیـنـه ګـل نـامـه هم د یـادولـو وړ ده دوي کـم وبـېش د شـاعری پـه هر صنف کـښــې د قـلــم زور ازمـــوئـېلـي دي خـــو ازاد او

معرئ نظم چې په پښتو شاعرئ کښې ددې صنف رواج ډېر کم دے ددې باوجود هم دوي ډېر ښه او معياري نظمونه تخليق کړي دي ـ ددوي د يو معرئ نظم دغه څو شعرونه چې ددوي د نظم د اوچت معيار او فن اندازې ترې لګي ـ

ستا د اخلاص په
درياب
لکه کشتئ ډوبېږم
لکه د خس زغلوي
زما د سترګو سيپئ
په تا لعلونه شيندي
ستا د سينے په کور
کښې
د رڼا ګانو شور شي
...
چرته تۀ پټ په پټه
لکه طوفان رادرومې[43]

په پښتو ادب کښې ددغۀ پورته ذکر شوو شاعرانو نه علاوه نورو هم څو شاعرانو معرئ نظمونه ليکلي دي ،چې په هغوي کښې لطيف وهمي، رشيد علی دهقان،سليم راز، فوزيه انجم ، خليل باور،رب نواز مائل،ارباب هدايت الله،عنايت الله ضياء ،اکبر سيال،زرنوز شهاب ، ډاکټر شېرزمان سيماب، او نور د يادولو وړ دي ـ هر څو که ددغۀ شاعرانو او ددوي د معرئ نظمونو شمېره د ازاد او پابند نظم په مقابله کښې ډېره کمه ده خو د فکر و فن او موضوعاتو په حواله مونږ ددغې نظمونو په حقله په ډاډ وئېلے شو چې معياري دي او د نورو ژبو د معرئ نظمونو سره سيال دي ـ

## حوالے

[1] - شاعری# معریٰ -نظم ttps://ur.wikipedia.org/wiki/
[2] ـ نظم معرا/https://ur.wikipedia.org/wiki/
[3] ـ https://en.wikipedia.org/wiki/Blank_verse
[4] ـ مشتاق مجروح یوسفزے، زرکانے،پېښور، یونیورسټي بک اینجسي، نومبر ۲۰۱۰ء، مخ:۱۴۶
[5] ـ پروفېسر جهان عالم ، ډاکټر و باچا خان، پښتو ادب په یو نظر کښې، پېښور، عامر پرنټ اینډ پبلشر، ۲۰۱۸ء ، مخ:۳۲
[6] ـ ډاکټرسلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښې، دوېم چاپ، پېښور،جدون پرنټنګ پریس،۲۰۱۲ء، مخ:۲۷
[7] ـ هم دغه اثر، مخ:۲۸
[8] ـ ډاکټر عبدالله جان عابد، پشتو ادب کي مختصر تاریخ،(طبع دوم) پیښور، یونیورسټي پبلشر، ۲۰۱۱ء ، مخ:۱۹۵
[9] ـ هم دغه اثر، مخ:۱۹۵
[10] ـ ډاکټر سلمیٰ شاهین ، جدید نظم په پښتو کښې، دوېم چاپ،هم دغه اثر، مخ۶۴،۶۳
[11] ـ هم دغه اثر، مخونه:۱۳۱،۱۳۰

12 ـ ډاکټر عبدالله جان عابد ، پښتو ادب کي مختصر تاریخ، (طبع دوم) پېښور، یونیورسټي پبلشر، ۲۰۱۱ء ، مخ:۲۰۰
13 ـ ډاکټر سلمیٰ شاهین ، جدید نظم په پښتو کښي، هم دغه اثر، مخ:۱۳۷
14 - هم دغه اثر، مخ:۱۳۱
15 ـ هم دغه اثر، مخ:۱۴۹
16 ـ هم دغه اثر، مٔخ: ۱۸۸
17 ـ ډاکټر عبدالله جان عابد، پښتو ادب کي مختصر تاریخ، هم دغه اثر، مخ:۱۹۵
18 ـ هم دغه اثر ، مخ: ۲۰۷
19 ،هم دغه اثر، مخٔ: ۱۹۵
20 ـ هم دغه اثر، مخ: ۲۰۶
21 ـ ډاکټرسلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښي، دوېم چاپ، هم دغه اثر، مخ:۱۹۸
22 ـ هم دغه اثر ، مخ: ۲۲۲
23 ـ هم دغه اثر، مخ : ۲۲۴
24 ـ ډاکټراختر علی،داشرف خان مفتون د شاعری تنقیدي جائزه (پي ایچ ډي مقاله)،پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي،۲۰۱۲، ۱۳، مخ:۱۶۰
25 ـ ډاکټر عبدالله جان عابد، پښتو ادب کي مختصر تاریخ، هم دغه اثر، مخ: ۲۱۶
26 ـ اشرف مفتون، سکونډاري (دوېم چاپ)، پېښور، ماسټر پرنټر، جنوري ۲۰۰۴ء، مخ:۴۳
27 ـ ډاکټرسلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښي، اولنے چاپ، هم دغه اثر، مخ: ۲۳۱
28 ـ هم دغه اثر، مخ: ۲۶۲
29 ـ نګینه خانم نګین ، مېجر یونس خلیل" د رومان شهزاده" پښتو، جلد ۴۷ نمبر ٦٥٦، جولائي - دسمبر ۲۰۱۸ ء ، مخ:۱
30 ـ هم دغه اثر ، مخ: ۳
31 ـ هم دغه اثر، مخ:۱۷
32 ـ یونس خلیل ،څاڅکي( دوېم ځل )لاهور، مترو پرنټرز لاهور ، 1996 ء مخ: ۹۲
33 ـ ماښام خټک، اجمل خټک یو باغي (انقلابي) شاعر، کراچی ، جرس ادبي جرګه، ستمبر ۲۰۱۶ء، مخ: ۴۲
34 ـ ډاکټرسلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښي، اولنے چاپ، هم دغه اثر، مخونه:۲۵۷،۲۵۸
35 ـ ډاکټر سلمیٰ شاهین ، جدید نظم په پښتو کښي، اولنے چاپ، هم دغه اثر، مخونه:۳۱۰، ۳۱۱
36 ـ ډاکټر عبدالله جان عابد، پښتو ادب کي مختصر تاریخ، (طبع دوم) پېښور، یونیورسټي پبلشر، ۲۰۱۱ء ، مخ:۱۹۵
37 ـ ډاکټر سلمیٰ شاهین ، جدید نظم په پښتو کښي، دوېم چاپ، هم دغه اثر، مخ:۳۰۵

[38] ــ هم دغه اثـر ، مـخ : ۳۰۶

[39] ــ ډاکټر سلمیٰ شاهین، جدید نظم په پښتو کښې، دوېم چاپ، هم دغه اثـر، مـخ:۳۲۸

[40] - ډاکـټـر عبدالله جان عابـد، پـشتو ادب کي مـختصر تـاريـخ، هم دغه اثـر، مخونـه :248،249

[41] ــ امـين الله داؤدزے، دا سراب کۀ وسوسه ده ، پـېښور، بـهـارونـه کـتـاب کـور، ستمبر ۲۰۱۶ء، مـخ ۱۰۹

[42] ــ اسيـر مـيـنګل ، اېـشمـه (درېـم چـاپ) ، پـېښور، دانـش کـتب خـانـه،جون ۲۰۱۱ء، مـخونـه : ۹۷، ۹۸

[43] ــ سيده حسينه ګل تـنـهـا،، شپـون، شپـول، شپېلی،مـردان، يـوسف زئ پـېپـر مـارټ،کـال،ن ــ م ، مـخونـه :۱۲۴،۱۲۳